درویش وردگ

۰۱اپریل ۲۰۱۵

## غربی فمینیزم او داعش

په دی وروستیو کی دغربی هیوادونو څخه په زرګونو ځوانان اوپیغلی داسلامی دولت سره دیوځاکیدو لپاره سوریی او عراق ته تللی اود داعش له جنګیالیوسره اوږه پراوږه دخلکو پروړاندی جګړه کوی! دخپاره شویو راپورونه پر اساس ددی جنګیالیو ترمنځ دښځو ونډه له ۱۵-۱۰ په سلو کی ده. زه حیران دی ته یم چی که چیری کومه له غربه راغلی نجلی دلته په آسیا کی ظلم کوی اوله ظالمانوسره مل ده،ددی پدیدی پروړاندی، د غربی فمینیزم عکس العمل څه دی؟ آیا دوی به دی نجلی ته دهماغه نارینه تروریست په سترګو وګوری؟ اوکه به ددوی جنسی تعصب په دوی باندی دمعصومیت پرده وغوړوی.

که چیری فمینزم ته دپانګی اولیبرالیزم دمحصول په توګه، زمونږ دټولنی له لیدڅخه وکتل شی نویوه افغانه میرمن به هیڅکله هم حاضره نشی چی داعلاناتو اویا دپانګی دیوی نانځکی رول ولوبوی. افغان میرمنی تل دخپلونارینه وسره اوږه پراوږه کاراوزیارکوی، په کرکلی اودڅارویو په روزنه کی ونډه اخلی. یوه کوچی میرمن کم ترکمه په کال کی دوه میاشتی په پښو مزل کوی، سهارټول کوراوکهول اوکیږدی په اوښ تړی، اومابښام یی ښکته کوی، بیا کورجوړوی ،پخلی کوی، اودماشومانو اوڅارویو پالنه هم کوی. کوچی په نیم خپل پرونی ملاتړلی وی اوپه خپل کاروان په سی له کورمی ترهلمنده لکه زمری روانه وی، نه کوم شین سترګی اونه هم تورسترګی ورته په بده سترګه کتلی نشی.او نه هم طالب داجرات وکړچی ورته نصیحت وکړی چی خوری اسلامی حجاب(ددوی په سبک) مراعات کړه.

غربی فمینزم نه یواځی زمونږپه ټاټوبی که بلکه په ټوله آسیا کی هم پلویان نلری اوبیګانه دی، که دیوی میرمنی ژوند ته په هندوستان،چین، جاپان اونورو عربی هیوادونو کی وکتل شی؟ نوهغه توپیرکوم چی له فمنیزم وهلی غربی میرمنی سره لری،له ورایه څرګندیږی( په ختیځ کی دلودیځ په پرتله یوه میرمن خپل ژوند، کورنی، ماشومانو ،خاوند اونورچاروته ډیره پاملرنه کوی اوخیال یی ساتی).

خبره بیاهم اقتصادی ده، پانګوالی نظام دکارخپلواک ځواک ته اړتیا لری، هغه که دنارینه وی اویا ښځینه؟ په پانګوالی کی انسان ته(که نارینه وی یا ښځینه) دیوه موټورپه سترګه کتل کیږی چی خاوند ته یی سود راوړی.اوخاوند په خپل واروته تیل، موبلایل،ګریس اونورلوازم برابروی،همدا دیوی غربی ښځی ستړی ژونددی-له پخواڅخه دغربی میرمنو هغه مفرطه علاقه چی دشرقی ځوانانو سره یی دواده کولو لپاره لری ،ددی خبری

ځرګندویه ده- ځکه په غربی تمدن کی انسان په پانګه پوری تړلی اومتعهد دی، نه په کورنی پوری –په عملی توګه په غرب کی کورنی له منځه تللی.

په دی کی شک نشته چی زمونږ په هیواد کی زمونږ خویندی اومیندی دډیرو ستونزواوکړاوونو سره مخ دی اوپه ډیری حالاتوکی دناوړه دودونوقربانی هم دی. ولی یوه خبره روښانه ده چی له دی ټولو کړاونو څخه دښځی خلاصون دغربی فیمنزم پواسطه نه شی ترسره کیدای. ځکه که یوافغان دیوه غربی نارینه ژوند ځانته نشی اختیارولی؟ نویوه افغانه همدارنګه نشی منلای چی دشامپو اوکریموداعلاناتو یوه برخه وګرزی( اعلان انرژی شرکت : عبدالطیف آخندزاده که توسط چهاردختربه دورازادب واخلاق، اعلان میشود)ددی خبری یوه ښه بیلګه کیدای شی.

لیری به نه ځو، غربیان به پرپردو دخپلو میرمنو سره چی په اعلاناتو کی تری کاراخلی اویاهم دنوروتولیدی مسایلو لپاره؟ خپل مشکل باید وڅیړو اوغمه یی وخورو! دناټو داشغال له پیله، اوآن دجهاد له شروع څخه ، مونږ دمیرمنوترمنځ، دسلفی- اخوانی اسلام دخپریدو شاهدان و، ددودیزی پړونی اوچادری پرځای عربی –ایرانی توری کپړی راووتی اوزمونږدخویندو څیری یی لاپخوا دتروریستانو پرشان کړی،بواځی سترګی یی معلومیږی(توبه خدایه-له دی رویزیونیزم څخه)، اواوس په کابل اونورښارونوکی سلفیانو په سلګونومدرسی، داراحفاظونه اومعهدونه(هغه سلفی کالجونه چی پکی دسره تعهد اوبیعت کیږی) جوړشوی اوپه زرګونو افغان نجونی پکی دنفرت اوتشدد زده کړی کوی، زه په راتلونکی کی دفمینزم عکس العمل ته ددوی پروړاندی حیران یم، چی دوی به هغه تروریستانی همداسی وغندی لکه نارینه تروریستان اوکه به دجنسی تعصب څخه پری دملکی(الیزابت) زوړپړونی وغوړوی؟ مونږبه په راتلونکو تروریستی جګړو کی دښځینه سرتیرو دپراخ ګډون شاهدان و.

داستعمار دموخوڅخه یوه هم د نیول شویو ولسونو دکلتور،فرهنګ او اخلاقو بدلول اوفاسدول دی، که چیری دمثال په توګه په ویټنام دامریکی دنیواک اغیزی په ټایلند اونورو دختیځی آسیا هیوادونو کی له ورایه ځرګنددی، اویا هم دروسی ښکیلاک اغیزی دمنځنی آسیا په هیوادونوکی په ځانګړی توګه په ښځوباندی دخواشینی وړدی.

پر هیواد دروسی ښکیلاک په پای کی دځینو سرچینو په قول په لس هاو زره نجونی، په شوروی کی دزده کړو؟ لپاره واستول شوی، چی خوامخوا به یی له روسی فرهنګ څخه دځان سره څه ناڅه راوړی وی.

دغربی ښکیلاک څیره له دی هم ډیره کرغیرنه ده، هیوادوال په فراخه پیمانه داخلاقی فساد دخپریدو شاهدان دی. دنظامی واحدونو ترڅنګ، په سلهاو انجیوګانی، نهادونه اوجوړښتونه ددی لپاره کارکوی ترڅو زمونږاوزمونږ دخویندو اومیندو څیره بدله کړی.

په سلهاو د«ارتقای ظرفیت» پروژی په لاره اچول شوی اوپرته له روښانه برنامی څخه په کارلګیادی. ډیری پیښی چی په وسله والو ځواکونو کی دافغان سرتیرو اوخارجیانو دټکر اوبرخورد سبب هم شوی، پر ښځودتیری په نتیجه شوی، چی افغانانو یی دلیدلو زغم نه درلود دوردګودتنګی په خوله، په اکاخیلوکی همدادجنسی تیری پیښی وی چی دافغان اوخارجی سرتیرو دمرګ ژوبلی سبب وګرځیدی. په ۲۰۰۳ کال کی هم دیانکیانو لومړی تیری دغزنی په خوګیانیو کی په یوه ناوکی و، چی ورروسته پکی زوم، ناوی اونورکسان ټول مړه شول. ښه می په یاد دی چی په ۲۰۰۸ کال کی یو انګریزجنرال په هلمند کی په یوه پارټی کی داسی وویل:(خیردی که افغان میرمنی لکه دنورو په څیردمونږترشاه منډی نه وهی! مونږ پخپله په دوی پسی ځو ،ترڅو دوی عادت شی اودمونږترشان منډی ووهی) ، هوکی غربی-یانکی-بی پلاره اوبی موره فرهنګ دی خدای دشرقیانو پرسپیوهم نه مسلط کوی.

په هیوادنی مینه